# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com        afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |



قاسم باز

۱۶ اکتوبر ۲۰۲۴



**قاسم باز**

# د منظور پشتین د قومی عدالت د خیبر ملی لویه جرگه!

**ځانګی به نن سبا کښی ګل شی**

**ما يي په سرکښی سری غوټي ليدلی دينه**

هاغه ملت چی ۷۰ کاله پاشل شوی و ځوان منظور پښتون بیا یو لاس کړ.

د پښتون د تحفظ بی بدیله مشر منظور احمد پشتین وایي .

« چی یو ځاځکی وینه را کښی پاتی وی ، د پښتون قومی عدالت جرګه جوړوم .»

دده دی متین عزم او کلکی ارادی دا وښودله ، کله چی پښتون عزم وکړی خپل عهد پوره کولای شی. د داسی پرتمینی او د ویاړه ډکي جرګی جوړیدل واقعآ اسان کار نه و.

علی امین ګنډاپور پدی جرګه کښی وویل . « که پښتانه سره یو شی هیڅوک پری ظلم نشی کولای.» حقیقت هم همدا خبره ده.

پښتون داسی یو قوم دی چی د خپلو ملی ارزشونو په مقابل کښی چاته سر نه ټیټه وی دوی په میړانه د خپلو ارزشونو څخه دفاع کوی لکه څنګه چی باتور شملور، زړه ور او خولور  اپریدی قوم ددی عظیمی جرګی د جوړیدو په خاطر ۳۵۰۰ خپلي حجری د ددی غونډی د ګډونوالو د سمبالښت لپاره اماده کړی. دی ته وایی غیرت.

د خیبر د جرګی پریکړه چی وایی « مونږ ډیورنډ لاین په رسمیت نه پیژنو» دا ددی معنی ورکوی چی پښتانه یو ملت دی نه شلیدونکی ملت دی او دا زمونږ د پښتونوالی او وراثت اصلی ثبوت او  سند دی.

د پشتون د تحفظ ژغورنی د عدالت په لویه سراسری ملی جرگی کی د اسفندیار ولی او ایمل ولی اشتراک دا هم وښوده چی پښتانه نور د غفلت له خوبه بیدار شوی ، تربنگی یی شاته پریښی او د خپل مستقبل په فکر کی دی. پدی لویه ملی جرگه کی د نر مفتی منیر شاکر حضور هم د ستایلو وړ دی.
گیله من شاعر به ویل.

**د پښتنو په قتل عام خاموش ملک او مـلا**

**له تاسو دومره گیله من یمه چی حد نلری**

ای عظیم شهیده گیله منه. دادی اوس ستا گیله پوره شوه ، ستا باتورو ورونو ، پلارونو ، خویندو او مایندو د خیبر د درگی په سوزانه دشته کی ستا ارمان پوره کړ خو افسوس چی تا په خپلو سترگو د دی لوی ارمان پوره کیدل ونه لیدل.

۲۰۲۴/۱۰/۱۴